هندوستان ۱۱۰۰ افغان کډوالو ته د دايمې اوسيدو قانوني اسناد ورکړل
2010-02-25 03:31

د هند دولت د چهارشنبې په ورځ اعلام وکړ چې په تيرو دريو کلونو کې يې د افغانستان د
ناکراره سيمو شاوخوا ۱۱۰۰ تنو اوسيدونکو ته په هند کې د دايمي استوګني قانوني اسناد
ورکړي دي .

د هند د کورنيو چارو وزير مولاپالي رماچاندران وويل چې دغه افغانان د نړيوالو قوانينو
پر اساس په هند کې د پاتې کيدو لايق ول او هند دا لازمه وبلل چې د هغوي د سر پر وړاندي جدي
خطر ته په کتو سره هغوي ته هند کې د استوګني دايمې اسناد ورکړي .

هند او افغانستان ډيري نږدې اړيکي لري او افغان دولت د سيمې د ټولو هيوادونو په پرتله
په هند اوجاپان ډير وياړي .

د يادولو وړ ده چې افغان ولسمشر حامد کرزي هم په هند کې خپلې لوړي زدکړي تر سره کړي دي
د بينوا ويب پاڼې نه په http://www.benawa.com/details.php?id=33326 □□□□□

1 / 1